# د نور محمد ترکی د بزګر لُور افسانې فکري او تنقيدي جاج

# The critical and intellectual review of Noor Muhammad Taraki fiction 'Da bazgar loor'

Dr. Nasrullah Khan[1] Dr. Badshah e Rome [2] Mr. Tufail Ahmad [3]


## ABSTRACT:

*Literature has different genres which express the life and point out what the life is in real and what is going on, what should be done. The writer has the power of that analysis and to create thing what are the real picture and image of certain people and geography with specific time period. Fiction is one of the most important part of literature which is equally famous here and there. Fiction may express things in its own style and way. There are many names of fictionist in the 20th century who is influenced from the world theories and thoughts in literature especially in fiction. One of them is the name of Nor Muhammad Taraki, the former president of Afghanistan who contributed to the Pashto fiction more than enough. In this paper we will discuss his fiction da bazgar lur, daughter of a former with critical and intellectual way of criticism and will try to find that is it written in the influence of progressive movement or not. But first we shall discuss the different thoughts and opinions about fiction from different angle and will try to find out a new view about fiction.*


Key words: Genre, Literature, thoughts, fiction, Geography, Image, Intellectual, Progressive Movement.

افسانه د ژوند د حقائقو هغه تصوير په قيصه ايز ډول داسې بيانول چې هم په کښې د فن خوارۀ وي او هم د حقيقت او ژوند تراخۀ وي.

افسانه قيصې ته وئيلي شي. په عربۍ کښې قيصه او فارسۍ کښې د افسانې لغوي معنې يو شان دي او د يو بل متبادل استعماليږي. د افسانې لفظ په مختلفو زمانو کښې په مختلفو معنو استعمال شوے دے. دې ته په انګرېزۍ کښې Short Story وائي. دا د مغربي ادب بخښنه ده. نور الغات د افسانې په حواله داسې ليکي.

"داستان، قيصه، کہانی، سرگزشت، حال او روداد."[1]

په اصلي معنو کښې لفظ افسانه د فارسي ژبې ټکے دے مطلب ئې څۀ قيصه يا کهاني دے.

افسانه هغه قيصه وي چې د يوې خاص واقعې په تاثر کښې په داسې ادبي او فني لحاظ وجود مومي چې هم په کښې د ژوند حقيقتونه خوندي وي او هم په کښې د جذبو خوارۀ. دغه قيصه څه هم کۀ مونږ خيالي او د ځانه راجوړه ګڼُو خو ولې بيا هم دا زمونږ په مېنځ کښې رازيږيږي او زمونږ خبره په کښې کيږي.

شيو برت لال ورمن هم افسانه په مکمل توګه بې اصله، خيالي او د ځان نه جوړه کړې شوي قيصه بولي. هغه د خپل ناول په ديباچه کښې ليکي:

---

[1] Assistant Professor, Department of Pashto, ICP

[2] Chairman Department of Pashto & Oriental Languages UOM.

[3] Lecturer in Pashto, Department of Pashto, ICP.

"قصه، کہانی، ناول، داستان وغیره سچے ہوتے ہوئے جھوٹے ہوتے ہیں اور جھوٹی حیثیت رکھتے ہوئے سچے ہیں. وہ لاکھ فرضي یا من گھڑت ہوں لیکن ان کی اصلیت ہوتی ہے. اصلیت کہیں واقعات کی صورت میں رہتي ہے کہیں خیالات کی شکل میں ." [2]

د څۀ واقعي بیان چي د هغي قاري په هغي کښي دلچسپي واخلي او د دلچسپۍ سره سره تري حظ هم واخلي، هغه حکایت، روایت ،قیصه، داستان یا افسانه کښي مشترک دي. د دې ټولو بڼه به ظاهره یوه ده خو افسانه تري نه جدا ده.

The New Encyclopedia Britannicaد افسانې په حواله لیکي:

"Short story , brief fictional process narrative that is shorter than a novel and that usually deals with only a few characters."[3].

د دي نه دا واضحه کېږي چي افسانه به د ناول نه وړه وي او د يوې یا څو خبرو د وحدت تاثر سره به ئې اظهار کېږي.

د افسانې په باره کښي مختلفو پوهانو په خپل خپل انداز خپل نظر وړاندې کړے دے. د وخت تېرېدو سره په مختلفو موقعو او مختلفو دورونو کښې د افسانې په حقله مختلفې رایې مخې ته راغلي دي. اجمل خټک د افسانې په حقله لیکي:

" د مختصر افسانې یا قیصې یو مشهور لیکونکے اېډګرایلن اووئیل چي کوم داستان چي کم نۀ کم نیمه ګېنټه او زیات نه زیات دوه ګېنټو کښي ختم شي نو هغه وړه قیصه یا مختصر افسانه ده."[4]

دا ضروري نۀ ده چي د افسانې د پاره مونږ د وخت قېد مقرر کړو ځکه چي یوه افسانه په لږ وخت کښي هم ختمېدے شي. مونږ له دا کتل پکار دي چي یوه افسانه په لوستونکي څنګه او څومره اثر کوي یا د یوې افسانې نه یو لوستونکے څومره حظ پورته کوي. افسانه کښي د یو خاص کس یا د یو خاص معاشري خاص واقعه په داسي انداز بیانولے شي چي په کښي د کردارونو نقشه د پلاټ په ذریعه راښکلے کېږي او داسي انداز باندې بیانېږي چي خپل یو خاص اثر سره په ډېرو کمو ټکو باندې ختمه شي. افضل رضا د افسانې د مقصد په حقله لیکي :

"د افسانې مقصد دا دے چي مونږ د افسانې په ذریعه یو خاص خیال او تاثر نورو ته اورسوو، چي په لوستو ئې د سړي ذهن ستومانتیا لرې کړو یا د تفریح د پاره ئې اولولو."[5]

یوه افسانه داسي پکار وي چي د یوې خاص معاشري یا قوم د وګړو د معاشي، سماجي، سیاسي، معاشرتي او نفسیاتي ژوند عکاسي په کښي په ښۀ طریقه په داسي انداز وشي چي د ذوق د تسکین سره په کښي د یو وګړي د پاره د ژوند د حقیقتونو ترجماني هم شوي وي.

په فني لحاظ افسانه د ډرامې، ناول او داستان نه بیخي جدا ده، ځکه چي په افسانه کښي د اختصار نه کار اخستے کېږي او په ناول یا ډرامه کښي لیکوال په ازاد مټ پلاټ له طول ورکوي. سحر یوسفزے لیکي:

" افسانه یوه لنډه قیصه وي چي نۀ خو د داستان یا ناول هومره طوالت لري او نۀ د ډرامې د سکرپټ په شان ئې مکالمې او کردارونه وي چي د سټیج حاجت ورته پېښېږي."[6]

افسانه یوه داسي لنډه قیصه وي چي په ظاهره یوه فرضي واقعه په کښي په داسي انداز وړاندې شوے وي چي د فن د خوږو سره په کښي مونږ ته د ژوند یو اړخ په ښشپړه توګه بیان شوے وي. عبدالرؤف نوشهروي د افسانې په حقله لیکي :

"د چا دا خیال دے چي افسانه یو ترتیب شوي لنډه قیصه وي. چي په کښي یوه فرضي واقعه په یو ډېر ښکلي انداز کښي بیان شوي وي. غرض دا چي کۀ د دې قسمه هر څومره تعریفونه اوکتے شي نو دا به اوښائي چي کۀ یو تعریف د بل نه څۀ ښۀ او موزون دے او چا صرف په دې اکتفا کړې ده چي د یو کردار د ژوند اهمه واقعه په یو ډرامائي صورت کښي په لنډو پېش کولو نوم افسانه دے."[7]

د افسانې کردارونه او د هغي وجود مونږ ته د ژوند خواږۀ او تراخۀ حقائق په داسي انداز وړاندې کوي چي د حقیقت سره ډېر نزدېکت هم لري او داسي تاثر ورکوي چي

زمونږ د چاپېرچل نه ئې دغه رنګ او حالت د فن په نازکو ګوټو تراشلي وي. A Short history of short stories کښې ویلئیم بائډ لیکي:

"Short stories seem to answer something very deep in our nature as if for the duration of its telling something special has been created, some essence of our experience extrapolated, some temporary sense has been made of our common, turbulent, journey toward the grave and oblivion[8]."

ترجمه: مختصره افسانه زمونږ د فطرت د بعضې ژورو څیزونو د خاص مدت پورې جواب ورکوي. زمونږ د تجربې په بنیاد د یو عارضي او عام ماهیئت سفر چې د قبر په لور وي.

د افساني په حقله د بائډ دغه خیال چې دا زمونږ د فطرت د بعضې هغه څیزونو رابرڅېره کولو هڅه ده چې په مونږ کښې یو نۀ یو کس د هغې سره په ژوند کښې یو ځل مخامخ کېږو یا مخامخ شوي یُو. مطلب دا چې په افسانه کښې چې کومه واقعه په ډرامائي انداز بیان شوې وي په هغې کښې د حقیقت سره دومره ډېر نزدېکت وي چې د لوستونکي په ذهن کښې ژوندي تصویرونه رابر څېره کوي.

انسان د وخت سره سره د خپلو مصروفیاتو لۀ وجې خپل ځان ته هم نۀ دے وزګار خو ولې بیا هم د خپل ذوق د تسکین د پاره او د ورځې د سټریا ویستلو په غرض په لږ وخت کښې د وخت تیرې په غرض افساني ته متوجه شول، ځکه چې د افساني اختصار او د خوند او رنګ انداز کۀ یو خوا د هغه وخت بچ کوي نو بل خوا ترې حظ اخلي.

لنډه دا چې افسانه په حقیقت کښې هغه قیصه ده چې زمونږ د ژوند عکاسي په کښې شوې وي لکه څنګه چې په ناول او ډرامه کښې وي خو په فني لحاظ دا لږه مختلفه وي وحدت تاثر، ایمائیت، رمزیت او د واقعاتو داسې ترتیب چې ژوند په کښې ښکاري. ډاکټر عبادت بریلوي لیکي :

> "لنډه افسانه یو فن دے چې ځان له جمالیاتي اصول او فني تقاضې لري. لنډه افسانه تر څو په دغه اصولو او تقاضو پوره نۀ وي لنډه افسانه ورته نۀ شي وئیلے."[9]

افسانه هغه قیصه وي چې مقصد ئې د معاشرې د اخلاقي او معاشرتي ژوند د ترجماني سره سره د شعور د بیدارۍ وظیفه ترسره کوي. افسانه په خپل ځان کښې په فني لحاظ پوره وي او د خپلو وضع کړې شوي اصولو پامنداره وي.

## د افساني فني توکي

- قیصه: د یوې افساني د پاره بنیادي توکے قیصه ده. د قیصې نه بغېر د افساني تصور نۀ شي کېدے. قیصه د واقعاتو په یو خاص ترتیب بیانول وي.
- سرخط: د افساني سرخط چې ښکلے او زړۀ راښکونکے وي نو لوستونکے ځان ته متوجه کوي. د دې سره سمه دا خبره هم په ذهن کښې ساتل پکار دي چې سر داسې وي چې د افساني مرکزي خیال ترې جوتېږي.
- ابتدا: د افساني د نوم په شان پکار ده چې د افساني شروع هم په داسې زړۀ راښکونکي انداز وي چې لوستونکي ځان ته راکش کړي او تر اخره ئې لوستو ته وهڅوي.

مشتاق مجروح لیکي:

> "څنګه چې د افساني نوم زړۀ راښکونکے پکار وي دغه شان ئې د شروع هم خیال ساتل پکار دي یعني وړومبۍ جمله دومره جانداره او متجسس پکار ده چې لوستونکي ترې د نظر لمنه خلاصه نۀ کړې شي."[10]

- واقعات: د افساني واقعات په داسې انداز شروع کول چې د لوستونکي توجه ځان ته راوګرځوي او تر اخره په کښې د تجسس رنګ او لاندے باندے په فنکارانه انداز بیان کړے شي. د دغې واقعاتو د ترتیب په بنیاد افسانه عروج ته لاړه شي او بیا ورو ورو زوال پلو روانه شي او یوې منطقي نتیجې ته ورسي.
- پلاټ : پلاټ د واقعاتو ترتیب ته وئیلے شي. په افسانه کښې چې څۀ

هم کېږي د هغې په شا څۀ محرک وي يعني هره واقعه د بلې واقعې
په نتېجه کښې کېږي. د واقعاتو زنځير ته پلاټ وئيلے شي.
د زرياب يوسفزي په حواله په څرګنده خزانه صفحه ٢٤٤ ساجد محمد شائق ليکي پلاټ
د واقعاتو زنځير ته وائي چې په کښې يوه واقعه د بلې واقعې په وجه يا نتيجه کښې مخې
ته راځي. پلاټ د افساني د پاره د ملا د تير حېثيت لري. د دې په وجه قيصه خپل
منطقي انجام ته رسي.
ډاکټر نصيب الله سيماب داسې ليکي :

" پلاټ د واقعاتو او افعالو يوه سلسله ده چې د يو خاص مقام څخه شروع کېږي. په منطقي ډول د مربوط واقعاتو د تسلسل په مرسته يو منطقي او فطري انجام ته ځان رسوي."[11]

د واقعاتو تسلسل داسې پکار دے چې لوستونکے د افساني د هر ډګر نه په ښۀ شان حظ هم واخلي او د قيصې په هره واقعه پوهه هم شي. پلاټ چې څومره کوټلے وي هغه هومره به افسانه ښائسته او ښکلې وي.

- کردار نګاري: د افساني کردارونه داسې پکار وي چې د ژوندۍ معاشرې د ژوندو انسانانو عکاسي کوي. د وخت او حالاتو سره سم او مناسب کردارونه د افساني د وجود د پاره ډېر زيات ضروري وي. دغسې د هر کردار په خپل ځائې او مقام وړاندې کول او جوړښت د افسانه ليکونکي په ذمه وي. کۀ هغه کردارونه سم او مناسب نۀ وي جوړ کړي نو افسانه به په فني لحاظ کمزوري وي.
- مکالمه: مکالمه د افساني د پاره هم ډېره ضروري ده خو په مناسب وخت او ځائې مکالمه د کردارونو د خوي خصلت او عادتونو د ښکاره کولو د پاره ضروري ګڼلے شي.
- منظر کشي: په افسانه کښې هر کردار په يو خاص ماحول او منظر کښې ژوند کوي. افسانه نګار له دا لازم دي چې د ماحول د ترجماني سره د منظر نګارۍ په اړه هم د کردار د جوړولو په وخت په نظر کښې وساتي.
- ربط: د افساني د واقعاتو په مېنځ يو خاص ربط او تسلسل ساتل هم ډېر ضروري وي ځکه چې کۀ د واقعاتو ترتيب کمزورے وي نو دغه افسانه به په فني لحاظ هم کمزوري ګڼلے شي.
- اختصار: د افساني وجود د غېر ضروري تفصيلاتو او واقعاتو بار نۀ شي برداشت کولے. د دې وجې نه افسانه نګار له پکار دي چې غېر ضروري تفصيلاتو او واقعاتو نه ځان وساتي او د افسانې د پلاټ د تقاضو خيال وساتي.
- وحدت تاثر : وحدت تاثر د افساني د پاره ډېر ضروري دے. د دې مطلب دا دے چې په افسانه کښې يکې يو اثر بيان شوے وي چې لوستونکے د ليکوال په مقصد او منشا پوهه شي. په افسانه کښې د ژوند يو اړخ بيانېږي ځکه نو د ډېرو کردارونو راوړو په وجه د افساني تاثر ته نقصان رسېدے شي.

فضل مير خټک ليکي:

"په ټولو اصنافو کښې د وحدت تاثر اهميت شته والے ډېر ضروري او اهم دے دا په ډرامې او تېره تېره په افساني کښې دومره اهميت لري لکه د افساني يو عنصر."[12]

د پاکستان د ازادئ پورې پښتو افسانه د معيار او مقدار په لحاظ ډېره قابل ذکر نۀ ده. د هغې وجه دا ده چې دلته افسانه د اردو نه راغلي ده او د پښتو افسانه نګارو هم د اردو په اثر کښې افساني ليکلې. د اردو په اثر کښې چې کومې افساني ليکلې شوې دي هغې کښې زمونږ معاشرتي ژوند د نشت برابر دے. څۀ وخت پس بيا ليکوالو ته د دې خبرې احساس وشو او ورو ورو ئې ځان د اردو د اثر نه را ويستلو کوشش وکړو، دا دور مونږ د افساني عبوري دور ګڼلے شُو. ځکه چې په دې دور کښې افساني د اردو رنګ لري کوو او د پښتو رنګ ئې خپلوو.
ډاکټر محمد اعظم ليکي:

" د دغې وخت د پښتو افسانې عمومي موضوعات کليوال او د کليوال ماحول په حلقه وو او د افساني مقصد اولسي اصلاحاتو ته د خلقو توجه کول وو. په دغه وخت کښې زيات موضوعات د ټولنې د غلطو دستورونو، رسمونو نه چاپېره چورلي. په

معاشره کښې د جبر او استحصال او ظلم و ستم خلاف اواز پورته کوي ."[13]

د افسانې موضوعات که هر څومره متنوع نهٔ وو ځکه چې په هغه دور کښې څو مخصوص موضوعات لکه غېرت، اصلاح او د پښتنو ناروا رسمونه رواجونه داسې وو چې د يو بل په تقليد کښې پرې افسانې ليکلې کېدلې. خو ولې بيا هم افسانې ليکلې کېدې هم او په مختلفو اخبارونو او مجلو کښې چاپ کېدې هم.

زېتون بانو ليکي:

" د کال نولس سوه ديرش نه د کال نولس سوه څلويښت پورې په افسانوي ادب کښې د اصلاح او غېرت سره د پښتنو ناروا رسمونه او غېر معياري معاشره څرګنده شوې ده او ځکه اکثر افسانې وعظونه او نصيحتونه ښکاري چې د پښتنو د ژوند ژواک سره نزدې تعلق لري."[14]

د دغې دور د افسانو عمومي موضوعات د يو بل سره تړلې ښکاري. بعضې وخت خو داسې لګي چې دغه افسانې د يو بل په تاثر کښې نهٔ بلکې تقليد کښې ليکلې شوې دي.

ادب د معاشرې پيداوار دے. د هر دور ادب هم د هغې دور ترجمان وي. يو شاعر، اديب، افسانه نګار، ناول نګار او ډرامه نګارد خپل وخت او معاشرې ترجمان وي. هغه چې څهٔ محسوسوي او څهٔ وينې ګورې نو هم هغې ته د فن جامه ور اغوندوي. ډاکټر اعظم ليکي:

" د افسانې په ورومبې ديرشو کالو کښې د پښتنو ليکوالو سره د ژوند د هو بهو نقش نګارۍ د احساس او د حقيقت نګارۍ په شا چې کومو عناصرو کار کړے دے په هغې کښې د ټولو نه لوے څيز د دې سيمې د خپل ثقافتي او تمدني ژوند سره پنګه ده، چې د هغې قدرونو بنيادونو کښې دومره توازن ؤ چې د بهرنو سيلو داسې په اسانه نهٔ شو غورځولے او د يو اولس يا ژبې اديبان او ليکوال خو هغه وخت د تخيل او رومان پرستۍ په سپورې کښې سرونه پټوي. د ژوند دغو بدليدونو قدرونو او نظامونو سره د ادب رشتې او خپلوې هم اړخ بدل کړې او په دغه هنګامي دور کښې چې نوې لار راغلې نهٔ وې او زاړهٔ د ايسارېدو نهٔ وي[15] ".

د راحت زاخيلي نه علاوه په پښتو افسانه ډېرو نومورو افسانه نګاروقلم پورته کړے دے. په دغه نامتو ليکوالو کښې ميا ازاد ګل، محمد اکرم فاروق شنوارې، نادر خان بزمي، سربلند خان، امير حمزه خان شنوارې، سيد رسول رسا، ايس اے رحمان کاکاخېل، عبدالخالق خليق او داسې نورو نامتو افسانه نګاران شامل دي. دوي د پاکستان د ازادۍ نه وړاندې په پښتو افسانه کښې ځانله يو ځانګړے مقام پيدا کړے دے. د ماسټر عبدالکريم نه علاوه د کال ۱۹۳۰ء او ۱۹۴۰ء تر مېنځه په "پښتون" مجله کښې هم بې شمېره افسانې د عبدالکريم او عبدالخالق خليق داسې نورو ليکوالو شائع شوې وې.

پښتو ادب کښې افسانه چونکې د شلمې صدۍ پيداوښت دے او د وخت د تېرېدو سره د ترقۍ په لور روانه ده. د ازادۍ نه پس پښتنو ليکوالو د افسانې د ليک د پاره خپلې هڅې تېزې کړې او د پښتو افسانې د پاره ئې جديد طرز خپل کړو. په دغه دور کښې اول اول په پېښور کښې "عدل" او "اسلم" د پښتو اديبانو تخليقات شائع کول. د ۱۹۲۷ء نه پس پښتو افسانې ډېره وده اوکړه. په دې دور کښې د مختلفو افسانه نګارو په سوونو افسانې په مختلفو رسالو او ورځپانو کښې چاپ شوې. په دې لړ کښې جهانزېب نياز ليکي :

"د ازادۍ نه پس د زړو ليکوالو سره نوؤ ليکوالو هم د افسانې ليک ته توجه ورکړه. دې نوې ګُهول د افسانې د فني معيار او تکنيک نه ځان خبر اوساتلو. ولې باوجود د دې هم ښاغلي اعظم خبره د پښتو افسانې خپل يو مخصوص رنګ دے او هغه رنګ پښتنو د ډېرو بهرنو اثراتو قبلولو نه پس هم قائم ساتلے دے. په بهرنو اثراتو کښې زمونږ افسانه په يو ځائې د اردو انګرېزي او روسي افسانې نه متاثره ښکاري ."[16]

که مونږ د پښتو ادب د تاريخ جاج واخلو نو دا خبره جوتېږي چې د نورو ادبي اصنافو د ودې سره سم پښتو افسانې هم د نوي رجحاناتو رنګونه خپل کړې دي. په پښتو افسانې کښې نوي نوي موضوعات راګډ شول هغه که سياسي دي که روماني، افاقي دي که مقامي خپله لمن کښې ئې ورله ځاے ورکړے دے . ډاکټر اعظم ليکي

:

"د ازادۍ نه پس چې د پښتو افسانې کوم دور شروع کېږي په هغې باندې د اردو او يورپي افسانې اثرات يو شان خوارۀ دي خو په دې بهرنو رنګونو کښې د پښتو خپل رنګ هم ځلېږي. د دې دور د افسانې يو لوے خصوصيت دا دے، چې اولسي او سماجي شعور په کښې بيان شوے او معيار ته رسېدلے دے. دا اثر په عملي شکل کښې تر ډېره حده اولسي ادبي جرګې د سپورې لاندې شوے دے."[17]

د ازادۍ نه پس د پښتو افسانې فهرست ډېر طويل دے په دې فهرست کښې زمونږ سره داسې افسانه نګار مخې ته راځي چې مونږ ئې د پښتو د افسانه نګار په حېثيت د نړيوالو افسانه نګارو په قطار کښې اودرولے شُو. په دې لړ کښې زمونږ نومورې ليکوال غازي سيال، اجمل خټک، پير محمد شارق، قمر راهي، ګل افضل خان، محمداعظم اعظم، سعدالله جان برق، همېش خليل، طاهر بخاري، طاهر افريدي، زيتون بانو، خالقداد امېد، رضا مهمندي، همايون هما، قيوم مروت، مهدي شاه مهدي، هدايت الله خټک ، ډاکټر سلمٰی شاهين، ډاکټر چراغ حسېن شاه، قلندر مومند، نادر خان بزمي، پروفېسر محمد نواز طائر وغيره شامل دي. د دې افسانه نګارو په افسانو کښې زمونږ د پښتون چاپېرچل پښتون کلتور، ثقافت او ژوند ژواک ټول اړخونه جوت دي او د دې سره د دې افسانه نګارو د نوي دور د ادبي او افسانوي تقاضو مطابق هم خپلو افسانو ته توجه ورکړې ده.

مونږ کۀ د پښتو افسانې جائزه واخلو نو زيات تره افسانې موضوعاتي افسانې دي خو صرف خبره يواځې د موضوع نه ده بلکې بعضې وخت افسانه نګارو ته څۀ ناڅاپه خيال يا واقعه يا کردار راوړاندې شي او بيا پرې هغه قلم پورته کړي او يو ښۀ افسانه وجود کښې راشي. کله کله داسې قسمه خيال جذباتي هم کېدے شي. خيال هغه خوند کوي کوم چې ليکوال په جذباتي، عملي، ذهني او اخلاقي سرمايه کښې داسې واغړلے شي چې د يوې ښکلې او خوندورې افسانې په طرز کښې څرګند شي. په دې حقله قمر راهي ليکي:

"پښتو افسانې په خپل ځان کښې د موضوعاتو يوه لويه پنګه ځاے کړې ده. چرته په کښې معاشرتي او سماجي رنګونه ښکاري نو چرته په کښې ثقافتي او دستوري، تهذيبي الميې د خپلو ناکړدو څرګندونه کوي. ځکه خو د هيئت لحاظ سره هر قسم افسانې په کښې ځاے مومي کۀ يو خوا په کښې يوه افسانه د تهذيب بدې چارې په ګوته کوي نو بل خوا په کښې د سسپنس نه ډکې افسانې لوستونکي په کشمکش کښې اخته کوي. کۀ يو خوا علامتي او تجريدي افسانې لوستونکي د خپل مقصد او مدعا په لور په مختلف تصوراتي کوڅو کښې ګرځوي نو بل خوا جنسي او مکالماتي افسانې د معاشرې د ناسورونو عکاسي کوي. دغسې د مختلفو موضوعاتو او هيئتونو تجربو سره د پښتو د افسانې سفر لا جاري دے."[18]

هر اديب او شاعر د يوې خاص نظريې پلوي وي. هغه په خپل تخليق کښې د يوې خاص نظريې او فکر تشهير کوي. کۀ هغه په شعوري توګه وي او کۀ په غېر شعوري توګه. هم دغه فکري او نظرياتي بنې پښتو ادب له په عمومي طور او افسانې له په خصوصي طور هغه رنګونه ورکړي دي چې ورته د ژوند رنګونه او شوخي وئيلې شُو. چرته چې د ژوند خبرې دي، چرته چې د ژوند د حقائقو نه پرده پورته کړې شوې ده.

دا يو حقيقت دے چې د هرې ژبې ادب د خپل دور ترجمان وي او هم دغه وجه ده چې مونږ له به د يوې فنپارې د تخليق محرکات، د هغې دور سماجي او سياسي حالات لوستل او بيا د هغې په تناظر کښې د فن پارې جاج اخستل وي. ځکه چې کۀ مونږ داسې نه کوو نو زمونږ د پاره يوه فن پاره صرف د ادب د پاره د ادب هينداره پاتې کېږي.

د دې سيمې د سماجي او سياسي پس منظر په حواله کۀ خبره کوو نو ترقي پسند تحريک په نولسمه صدۍ کښې هغه وخت شروع شو کله چې په بنګال کښې د مذهب په نوم د اصلاحاتو ابتدا وشوه. د نولسمې صدۍ په ابتدا کښې د هند تعليم يافته زلميو د

مغرب د خيالاتو او افکارو اثر قبول کړو. راجه رام موهن رائے، مهارشي، ديوبندر ناتهـ ټهاکر او داسي نور نومونه د ذکر وړ دي.

راجه رام موهن رائے په سنسکرت ، عربۍ او نورو ژبو پوهيدلو هغه د نورو مذهبونو ژوره مطالعه وکړه او دهغي مذهبونو د اساس او اصولو په حواله ئي ځان پوهه کړو. هغه د رسم و رواج په بنياد د مذهب د نوم د استعمال غندنه شروع کړه او دغسي هغه د معاشرې د لاندي باندي او طبقاتي نظام په حواله د شعور هڅې پېل کړې. د معاشرې د اصلاح د پاره د مذهب د اصلاح او د هغي د سوچه والي هڅې جاري شوې. دغسي دلته مختلف اصلاحي تحريکونه شروع شو. په دغه کښي يو تعليمي تحريک هم ؤ او چي کله دلته انګرېزانو د خپل تعليمي نظام رائج کولو هڅه کوله نو د هغي نېغ په نېغه اثر د دي معاشرې په وګړو کېدو. مېکالے خو واضحه ليکي چي مونږ له دلته يوه داسي تعليم يافته طبقه پيدا کول دي چي د هغوي ظاهري کړه وړه خو د هندوستانيانو وي خو په عقلي او اخلاقي لحاظ انګرېزان وى. دا ئي ځکه کول چي هغوي دلته خپل نظام چلول غوښتل خو د انګرېزي تعليم او افکارو د مطالعې په بنياد دلته يوه داسي طبقه هم پيدا شوه چي د هغوي د شعور الوت د عقل او فکر په اسمان وو. هغوي يو نوي سوچ او فکر شروع کړو او نوے ويژن ئي حاصل کړو. په هر قدم د مغرب نه فکري ځل اخستونکي باشعوره طبقه په شعوري توګه د دغي سامراجي قوت پر خلاف مزاحمت شروع کړو. د جمهوريت، عوامي اقتدار، عقليت پسندى او انسان دوستى تصوراتو د دې ځائي په خلقو کښي ذهني انقلاب پيدا کړو. د دغي نوي تصوراتو په وجه د دې ځائي خلقو د خپل سماجي، معاشي نظام او طرز حکومت په ضد سوچ شروع کړو. په هغوي کښي سياسي، قامي او اولسي سره سره ادبي تحريکونه هم شروع شول. دغسي پښتانه ليکوال هم د دې نه متاثره شول. په دغه باشعوره پښتنو ليکوالو کښي يوه نامه د نور محمد ترکي هم ده چي پخپله يو باشعوره او روښان فکره افسانه نګار دے. هغه خپل فن د خپل اولس د فکري، سماجي، سياسي او معاشرتي ترجمانۍ د پاره پورته کړے دے او د خپلي حصي ډيوه ئي په خپل انداز بله کړي ده.ش. حصين د ترکي د افسانې په حقله ليکي:

"نور محمد تره کي په يوه ډېره وروسته پاتي ساتل شوي ټولنه کښي د هغه هنر تيره کېښوده چي په نوره نړۍ کښي به د پوره کمال په لور خوځېدلي وي خو په افغانستان کښي په دغه هنر څۀ خاصه خلا نۀ درلوده"[19]

د نور محمد ترکي افسانه د ادب د پاره د ژوند، مقصديت او اشتراکي نظرياتو نه پرته د وخت د تقاضو او عصري غوښتنو هغه هينداره دي چي نۀ صرف لويدلي طبقي ته د ژوند د ارمانونو د دردونو سندرې وائي بلکي د مختلفو هنر مندانو، کسب ګرو او خواري کښو د نفسياتي، معاشرتي او سياسي تقاضو اشنائي هم لري.

دلته ئي د بزګر لُور نومي افساني د جاج اخستلو هڅه کولے شي،کومه چي د هغه په "موچي" کښي په صفحه ۱۱۳ شامله ده په دې هيله چي د هغه د فکر او سوچ په رڼا نور ذهنونه هم منور شي. دغه افسانه کښي د يو بې وزله بزګر او د هغه د لور د سترې ارماني ژوند نقشه راښکلي شوې ده چي بختوره نومي ماشومه د اختر دپاره د نورو ماشومانو سره د خان د لور جامي مامي او نور ځيزونه ويني او خپل پلار ته وائي چي ما له هم دغسي شيان د اختر دپاره واخله هغي ته پته نۀ وي چي د هغي د مور د کفن دفن دپاره ئي پالر د خان نه قرض اخستلے وي او د نورو ضرورتونو دپاره قرضونه کړي وي او د هغي د ورکولو په سبب ئي لاس خالي دے.بل خوا پسي د خان ناظر هم راځي وائي کوم قرض چي دې اخستلے د هغي عوض غله راکړه او لاس نيولے ئي خان له بوځي هلته خان ته ناظر د هغه د لور وائي چي هسي هم دې زمونږ د قرض ادا کولو جوګه نۀ دے بنۀ دا ده چي د هغه لور په نکاح کړې هم هغه وشوه ملا راشي او د بزګر د قائله کولو کوشش وکړي او دغسي د بزګر لور د خپل غربت په جرم کښي د خان د هوس په سولۍ وځېږي.پلار ئي د کاريز په سپرغه کښي ځان واچوي او لور يې په دې هيله د خان کره ځان اور ته نيولي وي چي چرته وخت به راشي او د خپل پلار او ځان بدل به د ظالمانو نه واخلي او خوا به پرې يخه کړي.

په دغه افسانه کښي بختوره يو داسي کردار دے چي زمونږ د سماجي او معاشرتي ژوند د ارمانونو بلها خوبونه په سترګو کښي لري. چرته چي زړۀ وي نو

ارمان لري چرته چې ارمان وي نو خوب وي او چرته چې خوب وي نو د تعبير هڅې ئې ضرور کيږي. دغسې بختوره هم زمونږ د سماج هغه symbolدے چې مونږ ورته په يو لحاظ يو آئيډيل وئيلے شُو. څوک چې د ژوند په هغه ډګر ده چې صرف خوب ليدل او د هغې د تعبير ارمان په زړهٔ لري. هغه د دې حقيقت نه نهٔ ده خبر چې خوب ليدل څه ګناه نهٔ ده خو د خوب د تعبير او بيا د خپلې منشا مطابق د تعبير شرط تړل ګناه او جرم دے. ځکه چې دلته د آدم اولاد په څهٔ نا څهٔ شکل کښې زمونږ د سترګو نه خوبونه تروړي. بل خوا د بختورې پلار يو داسې کردار دے چې هغه زمونږ د معاشرې د لويدلې طبقې symbol دے او دغه symbol کهٔ دا اووئيلے شي چې په هر انسان کښې يو بزګر دے نو بده به نهٔ وي. ځکه چې په مونږ کښې هر څوک د ژوند په څهٔ نا څهٔ ډګر د خپل دننه بزګر سره مخ کيږي او چې کله زمونږ خپله بختوره مونږ ته زمونږ په غاړه کښې لاسونه ټال کړي نو بيا خو هغه احساس دومره تريخ وي چې مونږ ته ژوند زهر لګېدل شروع شي.مونږ چې د بزګر کردار ته ګورو نو د مايوسئ او ناکامئ هغه تصوير وړاندې کوي کوم کښې چې د همت د جذبو توان هم نهٔ وي پاتې شوے ځکه چې د حالاتو چپو په داسې ګودر لاهو کړے وي چې د خپلې لور د ارمان د تکميل هڅه کهٔ کول غواړي هم نو نهٔ شي کولے خو دلته يو سوال دا هم پيدا کيږي چې موصوف ليکوال د ځنګه رنګه کردار نګاري کړي ده نو هغه کښې د ژوند هيڅ رمق نشته بس ځان ئې د حالاتو پنجو ته بخښلے دے او د خپل ځان سره د خپلې لور د ارمانونو په مرئ غلے شوے دے.دغسې کردارونه دلته په هند کښې اکثرو ليکوالو د چيخوف، ماکسم ګورکي،پوشکين،ارنسټ همينګوې او داسې نورو په تقليد کښې معارفي کړي دي .نور محمد ترکي هم دغه لار خپله کړي ده او د هغوي په تقليد کښې ئې د ژوند او حقيقت نه ماورا کردارونه د خپلې افسانې په وجود کښې د ځاے کولو کوشش کړے دے کوم چې يو اړخ ته ډېر مصنوعي لګي نو بلخوا پکښې د زمان او مکان تضادات هم شتون لري.لکه چې په دغه افسانه کښې په يو ځاے کښې ليکي:

"تهٔ به وائې چې عزرائيل ئې روح اخستلو ته راغلے دے،ناظر په داسې حال کښې چې لغتې ئې ورسمې کړې تر شونډو لاندې اووئيل ،" خداے دې خوار کړه ! تهٔ هم ځان ته مسلمان وائې ،د خلقو حق نهٔ ورکوې او ځان په يوه او بله کوې .هغه وخت چې مړے دې بې کفنه او بې سرشتې پر تشه توره ځمکهپروت ؤ،خو د ...صاحب لاس او پښې دې نيولې چې درته پور درکړي اوس چې دې دمه سمه شوه نو ځان پټوې ! کهٔ دې ددې لور د چيغو او بغارو لحاظ نهٔ واې او خان ئې نهٔ واې درباندې غوړولے نو زهٔ به درسره جوړ شوے وم."[20]

يو وخت داسې هم تېر شوے دے چې زمونږ په معاشره کښې د خان او ملا په جوړ کړي تور تم کښې د ډېرو بې نوا انسانانو د روح په دشتو کښې د ظلم او جبر طوفانونو راج کولو او د دغې طوفان مخ نيوي له داسې ډېرو هڅې کړي دي چې رڼا راوړي خو په هغې کښې دا يو نهٔ پټېدونکے حقيقت دے چې د سرمايه دارو په سيوري پاللے شوي شامل وو.ځکه چې د دغې طوفان مخ نيوے د عام کس د وس خبره نهٔ وه.نور محمد ترکي هم د خپل دور يو صاحب اقتدار او صاحب حېثيت شخصيت ؤ هغه هم ددې سسټم يوه با اثره حصه وه او د هغه دا قسمه افسانې او د هغې کردارونه د هغه نه دا تقاضه کوي چې ايا تا څهٔ عملي ګامونه پورته کړي کهٔ نهٔ هسې دې زمونږ د غربت زپلي ژوند منظر کشي کړي ده او نور عملي توګه هيڅ د امکان نشته...نور محمد ترکي دغه حقائق په داسې ياسيت او قنوطيت وړاندې کړي دي چې په کښې د خپل سماج هغه ماضي ليدلے شُو چرته چې د بل پيدا کړے او جوړ کړے خان او ملا زمونږ د سماجي او معاشرتي حقوقو په مرئ غلے ليدلے شي. د بختورې سوال چې کله پلار ته وائي، نو تهٔ يې ولې نهٔ لرې، چې هغه ئې لري؟[21] يو داسې بنيادي سوال دے چې کهٔ په هغه وخت کښې ئې جواب لازم ؤ نو نن وخت ملزوم دے او دا ځکه چې مونږ د خپلې معاشرې جاج اخلو نو دظلم او جبر به پنجو کښې راګېر انسانيت ورځ په ورځ خپلې معنې بائيلي. لکه په دې افسانه کښې د خان ناظر د خان د ناوړه ارادو ته لارې جوړوي هم او بيا د هغې د تکميل دپاره ورته مشورې او منصوبې هم تياروي.کله چې صاحب د ناظر نه تپوس وکړي چې هيڅ دې ورسره پيدا نهٔ کړل نو هغه ورته اووائي چې هيڅ هم نهٔ لري سپوا د لور نه او بيا ورته صاحب وائي چې ملا راوله او بيا به بزګر راولې او بيا ئې ملا ته ووئيل! تهٔ خو خبر يېچې زما ځلورمه مائنه په دې وختو کښې مړه شوه او اوس صرف درې ماينې لرم.دلته يو بزګر دے چې يوه لور لري او زما پور هم خورا پر ډېر

شوے دے چي هغه ئي نهٔ شي راکولے نو کهٔ دې په دې مسئله کښې مرسته راسره وکړاي شوه ښهٔ به وي."[22]

د ترقي پسندو دغه عمومي مسئله ده چي خامخا به ملا او خان په داسي انداز وړاندي کوي چي دغه تاثر ترې ولاړ شي چي ګني د نن دور د انسان لويه مسئله هم دغه ده.حالانکي کهٔ دې نقطې ته پاملرنه وشي نو دا ترې جوتېږي چي ملا د مذهب او خان د کلچر علامت دے او ترقي پسند هر څهٔ مني خو دغه دواړه منلو ته په هيڅ جوړ تيار نهٔ دي . نورمحمد ترکي هم د دغي ډلي او بيانيې پيروکار دے او په اوردي توګه ئي په خپلو افسانو کښې دغه ټچ ورکړے او پوره ناکامه ښکاري .بلکي د مس انډر سټېنډنګ ښکار دے. بل خوا دا هم يو حقيقت دے چي په مونږ د منافقت خول داسي راخور دے چي مونږ د بغاوت نامه هم نهٔ اخلو بلکي د خپل حق تپوس کول راته هم ګران دي. مونږ ته مُلا فوبيا او خان فوبيا بيمارئ لګېدلي دي. مونږ د خپلي بي عملی او تن اسانی ذمه وار هم خان او مُلا ګڼُو. نهٔ د څان يُو نهٔ د خان، نهٔ د مُلا، نهٔ مو خپل مذهب خپل کړو او نهٔ ثقافت، بلکي په دواړو راته څان بد لګي.
د بختوري د سوال په جواب کښې د بزګر دا خبره چي، کاشکي خوار غريب خلق دنيا کښې مهٔ وي پيدا[23]. کهٔ يو خوا د نا اُمېدئ او ياسيت تياري لري او د ژوند نه د بقا او ارتقا د اُمېد پريکړه ترې جوتېږي نو بل خوا ترې د منافقت بوي هم راځي. چرته چي ترکي د خپلي معاشرې د اصلاح او لويدلي طبقي په حواله د خپل قلم نه شعوري کار اخستے هلته د هغه په افسانو کښې د رجائيت ماده کمه په نظر راځي. هغه وګړي د مزاحمت پله نهٔ چمتو کوي بلکي هغه د يوې دائرې نه بلې ته د تګ منفي اثرات هم په داسي انداز ښائي چي د ژوند نه د زړهٔ تورې سبب ګرځي. بل کهٔ مونږ داغونه، ولولو يا د صاحب شاه صابر افسانې راواخلو نو هلته هم دا خبره ده هم دا رنګ دے هم دا انداز دے خو اُمېد لري، رجائيت لري د مزاحمت بنه لري او لويدلي طبقه کښې ساه پيدا کوي. جبلتونه فطري دي او په خپل قابو کښې ساتلے کېدے شي خو ترکي هلته د تيارو سره مبارزه کوي چرته چي د نمر د رڼا پلوشې هم په ګرانه رسي او بيا په مات زړهٔ او ماته حوصله واپس د خپل ژوند د مُلا او خان په غېږ کښې فنا اخلي. دغه فنا کهٔ سياسي ده او کهٔ سماجي ده خو څان ئي خان او مُلا ته يا به دا اوواړُو چي د سرمايي او مذهبي استحصال په دائره کښې داسي رابند کړے دے چي د وتلو د چل په څائے د انسانيت نه د ساه د وتلو نخښې وړاندې کوي. او د خپل څان سره ورته نور هم تماشې ته رابلي خو ولې بيا هم کهٔ مونږ د ترکئ د افسانوي پنګې مجموعې جاج اخلو نو کهٔ يو خوا ته هغه خپله د دې معاشرې يو فعال وګړے ۇ نو بل خوا ئي قلم هم تاند ساتلے دے. کله کله ترې د اظهار د لار د تګ چل د خپل نفسياتي برترئ په رنګ رنګ ښکاري خو دا به اوواُيو چي هغه د خپلي افسانې د پاره کوټلي او سوچه ترکيبونه راوړي دي او روانه عام فهمه سليسه لهجه ئي استعمال کړي ده او د خپل دور د معروضي حالاتو د ترجمانئ هڅې ئي کړي دي. د هغه کار او زيار د پښتو ادب د پاره يو څانګړے حېثيت لري. د هغه فن د پښتون معاشرې د يوې خاص طبقې د ترجمانئ سره سم د پښتني معاشرې د سماجي او سياسي ژوند عکاسي کوي.هغه ښيله خبره ده چي د عمل د سوچ او فکر په څائے صرف افسانه د افسانې دپاره ليکي.بله دا چي هغه کسب ګرو ته په کوم نظر ګوري نو هغه قابل رحم هم دے او قابل مزمت هم.په مجموعي توګه د بزګر لور افسانه يوه روايتي او تقليدي افسانه ده او د افسانې تر حده ئي مونږ د افسانې په تول پوره ګڼلے شو خو د ترکي د صاحب اقتدار راتلو نه پس د هغه د کسب ګرو دپاره د عملي اقداماتو هيڅ نخښې نښانې په لاس نهٔ راځي هم دغه وجه ده چي دغه افسانه صرف د افسانې تر حده مونږ ته اتړټېنمنټ راکولے شي.

## حوالي

[1] نوروالغات،جلد ۱،ص ۳۵۱

[2] ورمن، شيوبرت لال، ترپدار موتي، ص۲

[3] The new encyclopedia Britanica,volume 10,5th Edition,page 761

4 اجمل خټک، پلوشه، افسانه نګار، نادرخان بزمي، پښتو بزم ادب، اکوړه خټک، مخ: ۷

[5] پروفېسر افضل رضا ، ’’تخليق او تنقيد، مدينه پرنټنګ پرېس، ګنبت روډ، لاهور، ۱٤/ اګست ۱۹۷۳ء، مخ: ۱۰۳

[6] سحر یوسفزے ''ادب څۀ دے ؟، دریم چاپ، الکتاب پرنټرز، پېښور، ۱۹۹۶ء ، مخ : ۲۱۲

[7] عبدالرؤف نوشهروي، کاکاخېل میا محمد یوسف، دُر شهوار، انشاء پرېس، لاهور، ۱۹۵٦ء، مخ٥

[8] Boyd , William, “A Short history of short stories” 2018 – 04 – 17

[9] عبدالکافي ادیب، خورې پاڼې، د پښتو څو تحقیقي او ادبي مقالې، عظیم پبلشنګ هاؤس، پېښور، ۱۹۷۹ء، مخ: ۲۰

[10] مشتاق مجروح، زرکاڼے، دریم، یونیورسټي بک ایجنسي، خیبر بازار، پېښور، چاپ، نومبر ۲۰۱۰ ص: ۱۷٦،۱۷۷

[11] نصیب الله سیماب، ډاکټر، د کره کتنه اصطلاحات، قلات پرېس، کوېټه، مخ: ٥٤

[12] عبدالرؤف نوشهروي، کاکاخېل، میا محمد یوسف،دُر شهوار، مخ: ۱۷

[13] ډاکټر، محمد اعظم اعظم، پښتو ادب کښې کردارنګاري، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، ۱۹۹۳ء، مخ: ۱۹٦

[14] زیتون بانو، د نن افسانه، مشموله میاشتیزه پښتو، پښتو اکېډیمي، فروري، مارچ ۱۹۷۷ء، مخ: ۱۱۹

[15] اعظم،محمد اعظم ، ډاکټر، پښتو افسانه تحقیق و تنقید، منظور عام پرېس، پېښور۱۹۷٦ء،مخ ۱۱۹، ۱۲۰

[16] پروفېسر جهانزېب نیاز، پروفېسر افضل رضا، د پښتو افسانې انتخاب، مخ: ٤۷

[17] ډاکټر محمد اعظم اعظم، پښتو افسانه، تحقیق و تنقید، مخ: ۱۲٤

[18] قمر صحرائي ، اوس مې د اوښکو ستر مات شه ( یو نظم ) مشموله اوس مې د اوښکو نظر مات شه هزاره، عطاء الرحمان عطا، اباسین پښتو اکېډیمي، ۲۰۱٦ء، مخونه: ۱۱ ، ۱۲

[19] ش.حصین،ارواښاد نور محمد تره کي او د هغه لنډې کیسې مشموله موچي،په روسیه کښې د افغانانو فرهنګي ټولنه،۲۰۱۳ء،مخ ۷

[20] ترکي ، نور محمد ، موچي،په روسیه کښې د افغانانو فرهنګي ټولنه،۲۰۱۳ء مخ ۱۱۵

[21] هم دغه اثر مخ ۱۱٤

[22] هم دغه اثر مخ ۱۱۷

[23] هم دغه اثر مخ ۱۱٤